مروري

آزاده لاسرسی

# په وردګ ولايت کې د ادبي، فرهنګي او ټولنيزو سيمينارونو څېړنه

پوهنيار عبدالوکيل حبيبي[۱*]

۱. د پښتو ژبې او ادب څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، پکتيکا پوهنتون، پکتيکا، افغانستان.

*د مسئول ليکوال برېښناليک: wakilhabibi13@gmail.com ، د اړيکې شمېره: ۰۹۳۷۹۸۹۸۷۸۳۴+

**لنډيز**

د سيمينار نوم په مختلفو شکلونو ليدلی شو، لکه سيمينار/ سېمنار، سمنار، سمينار، خو مفهوم يې يو دی، چې د يوې موضوع په باب د پوهانو د بحث او تحقيق غونډې ته وايي، سمپوزيوم هغه علمي مجلس ته ويل کېږي، چې د يوې ځانګړې ډلې له لوري په يوه خاصه موضوع خبرې اترې کېږي، کنفرانس هغه غونډې، وينا او خطابې ته وايي، چې د يوې ځانګړې مسئلې د علمي بحث او تحليلي څېړنې له پاره جوړه شوې وي، ورکشاپ هغه غونډه ده، چې موضوع يې واحده وي، له عمومي ويناوو څخه وروسته ګډون کوونکي په ګروپونو، وېشل کېږي، هر ګروپ د خپل کار پايله په لنډه توګه حاضرينو ته اوروي او معمولا ښوونيزه بڼه لري او کنفرانس دې ته وايي، چې پر يوې جدي موضوع بحث او مشوره وي، د دغه څېړنې هدف په وردګ ولايت کې د ادبي، فرهنګي او ټولنيزو سيمينارونو څېړنه ده، چې په پايله کې دوه سيمينارونه د کمي څېړنې په آساس څېړل شوي، چې يو د معاصر ليکوال عبدالعلي مستغني د اتيايم تلين سيمينار دی، يوازې د دوو مقالو نمونه يې لاسته راغلې، بل وردګ د تاريخ په بهير کې سيمينار دی، له نيکمرغه مقالې يې د (( وردګ، وردک، ويهاردک، وياردک )) په نامه ټولګه کې چاپ شوې دي.

**کليدي کلمې**: سيمينار ، وردګ ولايت، ورکشاپ، کنفرانس، عبدالعلي مستغني

**د مقالې تاريخچه:**
د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۷
د مقالې منلو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۸
د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**
حبيبي، عبدالوکيل.(۱۴۰۵). په وردګ ولايت کې د ادبي، فرهنګي او ټولنيزو سيمينارونو څېړنه. ورديکا علمي څېړنېزه د ټولنيزو علومو ژورنال، ۱ (۱):۵۱-۷۰

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعاليت کوي.

CC BY

وردګ پوهنتون علمي څېړنيز نشرات (۱۴۰۵)

زموږ سره اړيکی: ۰۹۴۷۴۵۶۰۶۳۱۷+
**ايميل**: rjd@wu.edu.af
**آدرس**: سيدآباد ولسوالی، ټوپ دښته ميدان وردګ ولايت-افغانستان

آزاده لاسرسی

مروري

# A Study of Literary, Cultural, and Social Seminars in Wardak Province

Abdul Wakil Habibi*[1]
1.Department of Pashto Language and Literature , Faculty of Education , Paktika University .
*Corresponding author Email:wakilhabibi13@gmail.com, Tel:+93798987834

**Article History:**
Received: 26. 02.2026
Accepted: 15. 03.2026
Online First: 20. 05.2026

**Citation:**
Habibi, A. (2026). A Study of Literary, Cultural, and Social Seminars in Wardak Province. *Wardika J of Soc Sci* 2026;1(1):51-70

Email: rjd@wu.edu.af

This is an open access article under the Higher Education license
**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.


## Abstract

Different forms of the word seminar can be observed, such as seminar, semenar, sminar, and saminar; however, all of them convey the same meaning. A seminar refers to a gathering in which scholars discuss and conduct research on a specific topic. A symposium is a scholarly meeting in which a particular group engages in discussions on a specific subject. A conference refers to a gathering, lecture, or formal address organized for the purpose of scientific discussion and analytical investigation of a particular issue. A workshop is a meeting that focuses on a single topic; after general presentations, the participants are divided into groups, and each group briefly presents the outcome of its work to the audience. Workshops usually have an instructional or training-oriented nature. A conference may also refer to a serious discussion and consultation on an important issue. The objective of this research is to examine the literary, cultural, and social seminars held in Wardak Province. As a result, two seminars have been analyzed based on quantitative research. One of them is the seminar held on the 80th anniversary of the contemporary writer Abdul Ali Mustaghni, from which only the titles of two papers were obtained. The other seminar, titled “Wardak in the Course of History,” is more accessible; fortunately, its papers have been published in a collection titled “Wardag, Wardak, Wihardak, and Wiyardak.”


**Keywords:** Seminar, Wardak Province, Workshop, Conference, Abdul Ali Mustaghni.

**سریزه**

په وردگ ولایت کې د پښتو ژبې او ادب او همدارنگه د کلتور او تاریخ په برخه کې ځینې علمي او ادبي سیمینارونه جوړ شوي او په خپل ځای ارزښت لري، د سیمینارونو جوړولو ارزښت په دې کې دی، چې د بېلابېلو سیمو لیکوالان، شاعران او پوهان ورته را ټولیږي او په همدغه سیمینارونو کې علمي مفکورې د اسلامي، دیني، ادبي، فرهنگي، تاریخي او ټولنیزو مسایلو په اړه د تبادلې سبب کېږي، ادبي او فکري جریانونه راتلونکو نسلونو ته په علمي میراث پرېږدي، گډونوال له یو بل څخه ډېر او نوي ښه څه زده کوي او د ادب په غني کولو کې گټه ځینې اخلي، د ادب او فرهنگ د بډای کولو له پار په وردگ ولایت کې ادبي، فرهنگي او اجتماعي سیمینارونو علمي او څېړنیزه موضوع څېړل شوې ده، چې دغه ادبي او فرهنگي سیمینارونه یې د ولس او خلکو تر منځ د فکري اړیکو مهمه وسیله ده، د سیمینارونو جوړول یوازې د لیکوالانو او شاعرانو تر منځ نه، بلکې د نویو را ټوکېدونکو علمي اشخاصو د استعدادونو د الهام ورکولو پراوونه بلل کېږي، ډېری لیکوالان، استادان او د ادب مینه وال په دغه ځای کې خپلې پوهې او وړتیاوې، تجربې او نوښتونه له نورو نویو څېړونکو سره شریکوي او نوي ځوانان د علم په گاڼه سمبالوي، په دغه موضوع تر اوسه کوم لیکوال په علمي او تحقیقي ډول کار کړی نه و، له دغه مقالې څخه نور ادبي څېړونکي د راتلونکو ادبي او فرهنگي سیمینارونو د جوړولو په برخه کې د یوه لارښود او علمي ــ ادبي پل په توگه کار اخیستلی شي او خپلو علمي تحقیقاتو ته دوام پرې ورکولی شي.

**اهداف**

۱ ــ په وردگ ولایت کې د جوړ شویو سیمینارونو پېژندل.

۲ ــ د سیمینار، سیمپوزیم، ورکشاپ او کنفرانس تر منځ بېلوالی.

**پوښتنې**

۱ ــ آیا په وردگ ولایت کې ادبي سیمینارونه جوړ شوي؟

۲ ــ آیا سیمینار، ورکشاپ او کنفرانس یو دي؟

**د څېړنې مېتود**

دا څېړنه معلوماتو ته په کتو سره کیفي (Qualitative) څېړنه ده. په دې څېړنه کې د معلوماتو راټولولو لپاره له کتابي او اسنادي سرچینو څخه استفاده شوې ده. د موضوع اړوند معلومات، نظریات او علمي مطالب تر ډېره بریده د بېلابېلو معتبرو کتابونو، مقالو او فرهنګي اسنادو له لارې تر لاسه شوي دي. په دې څېړنه کې د معلوماتو د تحلیل لپاره تشریحي او تحلیلي مېتود کارول شوی دی. لومړی د وردګ ولایت په ادبي، فرهنګي او اجتماعي سیمینارونو کې وړاندې شوې مقالې راټولې شوې، وروسته یې منځپانګه تحلیل او ارزونه شوې ده، تر څو د سیمینارونو علمي، فرهنګي او ټولنیز ارزښت روښانه شي. د همدې مېتود له لارې هڅه شوې چې د وردګ ولایت په ادبي، فرهنګي او اجتماعي سیمینارونو کې وړاندې شوې مقالې له علمي پلوه وڅېړل شي او د هغو ادبي، فرهنګي او ټولنیزو اړخونو ته روښانتیا ورکړل شي.

**تېرو آثارو ته کتنه**

په وردګ ولایت کې د ادبي، فرهنګي او ټولنیزو سیمینارونو په اړه تر اوسه کوم لیکوال علمي او څېړنیزه مقاله لیکلې نه وه، په وردګ پېژندنه کتاب کې چې لیکوال یې ګل‌آغا احمدي وردګ دی، په دغه اثر کې وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار او په سیمینار کې د وېشل شویو کتابونو یادونه په کې شوې ده ( احمدي، ۱۳۹۵ل. ) . بل ادبي اثر  چې د مقالو ټولګې اهتمام یې احسان‌الله آرینزي کړی او د وردګ، وردک، ویهاردک، ویاردک په نامه چاپ شوې او سریزه پرې اهتمام کوونکي لیکلې ده، په دغه کتاب کې هم وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار د مقالو او د لیکوالانو نومونه یې په مکمل ډول راغلي دي ( آرینزی، ۱۳۹۵ل.) .

**د ادبي او فرهنګي سیمینارونو ارزښت**

د یوه ادبي، فرهنګي او تاریخي سیمینار له لارې نوي څېړنیز او فولکلوري مواد او تر څنګ یې تاریخي روایات او تاریخي پېښې راټولېږي، د سیمې رواج او عنعنات، ژبه، کلتور، اتلان او تاریخي پېښې په منظم ډول راته بیانوي او پېژندل کېږي او همدارنګه د یوې علمي او څېړنیزې موضوع د حل له پاره فکري لارې چارې وړاندې کېږي، ادبي سیمینارونه ډېر مهم او پر ځای ارزښت لري؛ ځکه دا ډول علمي او فرهنګي غونډې د ادب، ژبې او فرهنګي پوهاوي د

پراخېدو له پاره یو مهم او پر ځای بنسټ جوړوي، بل مهم ادبي او علمي ارزښت یې دا دی، چې د علمي او فکري تبادلې زمینه برابروي، یعنې لیکوالان، شاعران، څېړونکي او د ادب مینه‌وال په فکري او جسمي توګه سره یو ځای کوي، چې د نظرونو ورکړه را کړه یعنې فکري تبادله په کې کېږي او نوې ښې علمي او ادبي مفکورې زېږوي، بله خبره دا ده، چې د ځوانانو د فکري وړتیاوو هڅونه او ځلونه راته کوي، دا ډول ادبي محفلونه د ادب ډګر نویو لیکوالانو او څېړونکو ته وخت او موقع ورکوي تر څو خپل لیکلي پټ آثار او د ذهن خبرې وړاندې کړي، له تجربه لرونکو استادانو څخه نوې او تازه زده‌کړې وکړي او خپل علمي او ادبي سفر ته دوام او پرمختګ ورکړي، بله مهمه دا وي، چې د ژبې او ادب په وده او علمي پرمختګ کې د سیمینارونه جوړونه د ژبې د بډاینې، ادبي سبکونو د پېژندلو او د نویو ادبي لارو چارو د پراخولو مهمه او پر ځای وسیله وي، بل ارزښت به یې دا شي، چې د فرهنګي یووالي او موافقې زمینه به برابره او مساعده شي، یعنې د بېلا بېلو سیمو او ژبو څېړونکي، لیکوالان او شاعران سره راټولوي، نو دا کړنه او عمل د فرهنګي یووالي سبب او لامل ګرځي، بله مهمه داده، چې د ادبیاتو د ارزونې او ادبي کره کتنې موقع را کوي، چې له امله یې د ادب او ژبې کیفیت لوړ او معیاري کېږي، تر ډېرو مهمه داسې ده، چې دا غونډې او سیمینارونه د یوې دورې ادبي حال او احوال او تر څنګ یې فکري جریانونه ثبتوي، چې راتلونکو نسلونو ته د مطالعې او څېړنې له پاره مهم ادبي، فرهنګي او پوهنیز میراث پاتې کېدل ګڼل کېږي.

## د ادبي او فرهنګي څېړنیزو سیمینارونو ګټې

ادبي سیمینارونه ډېرې ګټې لري، چې د ادب، ژبې، فرهنګ او تاریخ د زده کړې د پراخېدو او عام کېدلو له پاره ډېر مهم دي، د سیمینار ګډونوال له یو بل څخه علمي زده‌کړې کوي، نوې او ادبي مفکورې ترلاسه کوي او د ادبیاتو په اړه ژور علمي او ادبي بحثونه او څېړنې کوي، بله مهمه ګټه یې دا ده، چې نویو لیکوالانو او شاعرانو ته ادبي روحیه ورکوي او له تجربه‌لرونکو استادانو سره یې ښې او مناسبې اړیکې پیدا کېږي، د راتلونکي نسل له پاره ادبي، فرهنګ او پوهنیز ارزښتونه ته په میراث پرېږدي، هغه کسان چې په سیمینارونو کې ګډون کوي، عموما نوې

پوهه او یو څه نوي معلومات ترلاسه کوي، نوي موضوعات یې د همغې ورځې زده کړې له لنډ مهاله حافظې څخه اوږد مهاله ذخیرې ته رسوي، چې د اوږدې مودې له پاره پرې تکیه کولی شي.

د سیمینارونو جوړول له ادبي برخې پرته د وخت حکومت ته هم ګټې ګټې لري، مثلا د خلکو باور ترلاسه کول؛ ځکه عامه خلکو ته دیني، فرهنګي او ټولنیز ارزښتونه مهم دي او همدارنګه د حکومت او خلکو ترمنځ اړیکه قوي کول یې بله ګټه بللی شوو. د څېړونکو مقالې، چې هر وخت په یوه ټولګه کې چاپ شي، د هغوی علمي هڅونه او د څېړنې ذوق پیاوړی کېږي او د چاپ شوې ټولګېستره ګټه دا ده چې د څېړونکو له پاره یوه باوري سرچینه پیدا کوي او راتلونکي نسل ته د علمي موادو یوه ښه منابع وي، چې په نورو څېړنو او علمي کارونو کې به پرې تکیه کېږي، همدارنګه د دغه مقالو چاپول لیکوالان هڅوي او د څېړنې شوق یې زیاتوي او علمي باور، هڅونه او راتلونکو څېړنو ته یې لېوالتیا او ځیرکتیا څو برابره لوړیږي.

### د سیمینارونو په جوړولو کې آساسي ټکي

زموږه په ټولنه کې د ټولو سیمینارونو موضوع او سوژه بایده علمي، ادبي او د څېړنې وړ وي او د مشرانو څېړونکو، استادانو او پوهانو څخه مشوره وغوښتل شي او بیا جوړ شي، بل دا مهمه ده، چې ټاکلې، وخت او حالاتو ته په کتو، مناسبه بودیجه، ځای او نور مسایل په نظر کې ورته ونیول شي، تر ټولو مهمه دا وي، چې ټاکلې اجنډاء ولري، د هر لیکوال د موضوع او مقالې لوستلو له پاره ټاکلی وخت وټاکل شي او د دې تر څنګ ویناوال او ګډونوال هم معلوم شي. بله مهمه د علمي مقالو د راټولولو خبره ده، د دې له پاره هم څو مهم ګامونه په پام کې نیول اړین دي، لکه د مقالو د موضوعاتو ټاکنه ډېره مهمه ده، بل د مقالو د غوښتنې له پاره بایده په رسمي چوکاټ کې خبراوی وشي، یعني مکتوب نورو اړونده ادارو ته ولېږل شي، یا د رسنیو له لارې اعلانات وشي او بل مهم دا وي، چې د مقالو راټولولو له پاره یوه مناسبه کړنلاره او اصول ترتیب شي، تر څو څېړونکي، لیکوالان او پوهان په آسانی سره خپلې څېړنیزې مقالې اړونده مرجع او

ځای ته ورسوي او تر څنګ یې مقاله د مخکې جوړ او اعلان شوي چوکاټ مطابق و ارزول شي او لیکوال ته یې د ارائه کولو په اړه ډاډ ورکړل شي.

## سیمپوزیوم، سیمینار، ورکشاپ او کنفرانس

د سمپوزیوم( Symposium ) په اړه په فرهنګ عمید دوهم ټوک کې داسې لیکل شوي: هغه علمي مجلس ته ویل کېږي، چې د یوې ځانګړې ډلې له لوري په یوه خاصه موضوع خبرې اترې کېږي ( عمید ، ۱۳۸۱ ل.) . د کنفرانس ( Conferece ) په مورد په فرهنګ عمید درېیم ټوک کې داسې لیکلي : (( هغه غونډه، وینا او خطابه، چې د یوې ځانګړې مسئلې د علمي بحث او تحلیلي څېړنې له پاره جوړه شوې وي ( عمید ، ۱۳۸۱ ل.) . د ښوونیز مدیریت په نامه یو کتاب محمد اسحاق شهید زوی لیکلی، په دغه کتاب کې د ورکشاپ په اړه داسې لیکلي شوي : (( ورکشاپ هغه غونډه ده، چې موضوع یې واحده وي، له عمومي ویناوو څخه وروسته ګډون کوونکي په ګروپونو، وېشل کېږي، هر ګروپ د خپل کار پایله په لنډه توګه حاضرینو ته وړاندې، معمولا ښوونیزه بڼه لري ( شهید زوی، ۱۳۹۸ل. ) د پوهنې وزارت د ښوونکو روزنې او مسلکي پراختیا ریاست د اغېزمنې ښوونې او زده کړې دودول په نامه کتاب کې د ورکشاپ په اړه داسې لیکل شوي : ورکشاپ په لغت کې روزنیزه غونډه ده، په اصطلاح کې ورکشاپ هغه غونډه وي،چې خلک په یوه ځانګړې موضوع په عملي توګه کار کوي، په معین ځای او معین وخت کې ( پوهنې وزارت،۱۴۴۷ هـ.ق.) په پښتو – پښتو تشریحي قاموس دوهم ټوک کې د سیمینار په اړه داسې لیکل شوي: (( سېمنار(semanar)، سیمینار، سمنار ، سمینار ، ۱ ــ د یوې موضوع په باب د پوهانو د بحث او تحقیق غونډه. ۲ ــ هغه مؤسسه یا د زده کړې ځای، چې یو هم مسلک د ښبنتانو یوه ډله په کې را غونډېږي او د خپل مسلک اړوند موضوعات زده کوي. ۳ ـــ د دغه راز زده کوونکو یوه ډله. ۴ ـــ هغه خونه ، چې دوی په کې را غونډېږي. ۵ ــ کنفرانس( بیلابیل، ۲۰۱۲م. ) په دانش فارسي – پښتو قاموس کې د

کنفرانس په رابطه داسې ليکل شوي : کنفرانس (Konferans) ۱ ــ پر يوې جدي موضوع باندې بحث . ۲ ــ د مذکرې له پاره د څو کسو غونډه . ۳ ــ پر يوې جدي موضوع بحث او مشوره . ۴ ــ د مذاکرې او مباحثې له پاره د څو تنو رسمي جرگه (يوسفزی،۲۰۱۲ م.). د آريانا دايرة المعارف، څلورم ټوک، دوهمه دوره کې د سيمينار په اړه داسې ليکل شوي: (( سيمينار(seminar) يوه علمي، معلوماتي او روزنيزه غونډه ده، چې د ځانګړي تخصص لرونکي مسلکي پوه تر يوه ټاکلي عنوان لاندې خپلو همسلکانو او د ځانګې تخصص لرونکو ته د ځانګړې موضوع په اړه څېړنيز معلومات ورکوي، د موضوع له پاره مقدمه، د اصل متن توضيح، پايله او وړانديزونه په کې حتمي دي، دا ډول غونډه د يو هيئت له خوا ارزيابي کېږي، په پای کې بحثونه(Feed back) او پوښتنې هم کېدای شي، چې د سيمينار ورکوونکي له خوا ځوابيږي، د سـيمينار وړاندې کـوونکی د مـوضـوع او پرابلم د حل په اړه ځانګړې سـپارښتنې وړاندې کـوي، معمولاً سيمينار د کاغذ له مخې نه لوستل کېږي، بلکې د لکچر ورکولو بڼه لري، کېدای شي په پاورپوينټ( Power Point ) پروګرام کې يې سلايډونه د پرزنټېشن په بڼه هم وړاندې شي، له ورکشاپ سره يې توپير دا دی، چې ورکشاپ ته بېلابېل خلک بلل کېږي يعنې د تخصص او مسلک موضوع مطرح نه وي او په ورکشاپ کې وروسته تر عمومي وينا ګډون کوونکي په ګروپونو وېشل کېږي او هره کمېټه او ګروپ خپل کار پر مخ بيايي او يوه عمومي نتيجه ابلاغوي، ورکشاپ عموما مشورتي بڼه لري، خو سيمينار علمي موضوعګانې څېړي ( اکاډمي، ۱۳۹۰ل.)

**په وردګ ولايت کې ادبي، فرهنګي او ټولنيز سيمينارونه**

د يوه نامتو ليکوال د ادبي کارنامو، د مړينې او پيدايښت نمانځل نه يوازې د هغه د شخصيت او ادبي مقام درناوی دی، بلکې د هغو د فکري، فرهنګي او ادبي ميراث د علمي ارزونې او ساتنې له پاره يو مهم علمي او کلتوري مسؤليت دی، د يوه ليکوال او شاعر د پيدايښت، مړينې، ادب او علمي کارنامو په اړه سيمينارونه جوړول، يو علمي، فرهنګي او ارزښتمند محفل وي، چې هدف يې د هغه ليکوال د فکري، ادبي او فرهنګي ميراث ساتل دي، د ليکوال د ژوند، زده کړو،

خدمتونو، شعر او شاعرۍ، ادبي آثارو، ادبي او فکري مکتب، د دوی پوهنیز ژوند او د پوهنې اغېزې یې په ژوند او د ادبي آثارو په اړه کتنې او همدارنګه د دوی په په اړه ښې او علمي مقالې په سیمینارونو کې وړاندې کېږي، د یوه لیکوال د تلین په اړه سیمینار جوړول یو منظم علمي او فرهنګي بهیر دی، چې د ادبي تاریخ د ژوندي ساتلو او د فکري ارزښتونو د لېږد له پاره ځانګړی او مهم ځای لري. په اوس وخت کې د سیمینارونو جوړول یو ښه فرصت دی، چې ادبي، فرهنګي، تاریخي، سیاسي، دیني بحثونه په کې وشي او نوې ژورې څېړنې مینه والو ته وړاندې او په لاس ور شي، مثلا د یوې سیمې یا ولایت په اړه یو سیمینار جوړولو کې به د هغه تاریخ، کلتوري میراث، اقتصادي منابع، پوهنیز جوړښتونه او ادبي ظرفیتونه معلوم او په اړه به یې علمي مقالې وړاندې او څېړونکو ته به لومړی لاس نوي ډېر علمي مواد په لاس ورشي.

**د پښتو او دري ژبې د معاصر شاعر او لیکوال عبدالعلي مستغني د اتیایم تلین سیمینار**

دغه یو ورځنی څېړنیز او ادبي سیمینار د(۱۳۹۲ل.)کال د مرغومې(جدي) میاشتې پر(۷) ورځ، د وردګ ولایت اطلاعاتو کلتور ریاست، د غازي عبدالکبیر خان د غونډو په تالار کې جوړ کړی، ګډونوال یې د دې ولایت والي عبدالمجید خوږیانی او د ولایت اداري کارمندان، د علومو اکاډمي ځینې غړي، لکه محترم سرمحقق زلمی هېوادمل، عبدالغفور لېوال، مشر استاد حبیب الله رفیع او یوشمېر نور لیکوالان او فرهنګپالان وو، د پښتو او دري ژبې د معاصر شاعر او لیکوال عبدالعلي مستغني د اتیایم تلین سیمینار کې د استاد سرمحقق زلمي هېوادمل په وینا زیاتې علمي، ادبي او ښې فرهنګي مقالې ولوستل شوې، په را پولولو کې یې تر کچې زیاته بې غوري شوې ده او راټولې شوې نه دي او مقالې د کتاب په بڼه تر اوسه چاپ شوې نه دي او ځنې مقالې د وردګ اطلاعاتو کلتور ریاست له رئیس محمد اورنګ مختار سره وې، البته په(۱۳۹۶ل.) کال کې او ماته یې د دوو مقالو نومونه لاسته راغلي دي ( مختار، ۱۳۹٦ل.).

۱ ــ مستغني و غزل — سرمحقق محمدآصف ګلزاد

۲ ــ به یاد صدمین سال تولد مستغنی — اکبرشهرستانی

د پښتو آریانا دایرة المعارف په اووم ټوک کې د عبدالعلي مستغني په اړه داسې لیکل شوي: عبدالعلي مستغني ابن ملا رمضان وردگ په ( ۱۲۹۲ هـ . ق .) کال کې زیږېدلی دی، له خپل پلار نه یې منطق، پخوانۍ فلسفه، فقهه ، تفسیر، احادیث، د کلام علــم او ادبي علمونه لوستلي دي او په دري او پښتو ژبو کې تکړه شـــاعر و ، په یوه زمانه کې د کابل ادبي انجمن غــړی و، په ( ۱۳۵۲ هـ . ق. ) کال فوت شو، مستغني د یوه پېرړ دېوان مــؤلف دی، د ده د قصایدو یوه مجــموعه په( ۱۳۴۲ ) کال کې طــبع شوېده ( آریانا دایرة المعارف ، ۱۳۵۵ل.). استاد عبدالرؤف بېنوا د اوسني لیکوال په درېیم ټوک کې د عبدالعلي مستغني په هکله داسې لیکلي: ښاغلی عبدالعلي مستغني د مرحوم ملا رمضان آخندزاده زوی ، د ملا قضا لمسی او د ملا رسولداد کړوسی، په خته هوتک د پښتو او فارسي نامتو شاعر و، چې د ذوی الحجې میاشتې په (۱۷) نېټه د کابل په بالاحصار کې زیږېدلی، په (۱۳۵۲ هـ .ق./ ۱۳۱۲ ل. ) کال د حوت یووشتمه د یکشنبې په ورځ وفات شوی او د تمیم انصار په هدیره کې ښخ دی ( بېنوا، ۱۳۴۶ل.). د کابل پوهنتون استاد پوهاند دوکتور بریالي باجوړي د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ( روښانتیا پړاو) کتاب کې د عبدالعلي مستغني په اړه لیکلي: عبدالعليمستغني د روښانتیا پړاو یو نومیالی شاعر و، دی د فارسي ژبې له تکړه شاعرانو څخه دی، چې په پښتو ژبه یې هم ځینې شعرونه ویلي دي، په سراج الاخبار او کابل مجله کې خپاره شوي دي ( باجوړي،۱۴۰۰ل. ). د پښتو ادبیاتو اوسنۍ دورې کتاب کې، لیکوال یې استاد دوکتور زېور الدین زېور دی، د عبدالعلي مستغني په اړه یې داسې لیکلي: (( مستغني د دې ټولو ادبي فعالیتون سره د (٦٠) کالونو په عمر په (۱۳۵۲هـ . ق. / ۱۳۱۲ل.)کال د حوت میاشتې په (۲۱) نېټه د یکشنبې په ورځ د تل له پاره د دې دنیا څخه سترگې پټې کړې دي ( زېور ، ۱۳۹۴ل. ). کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي په خپل کتاب د پښتوادبیاتو تاریخ کې د عبدالعلي مستغني د شعر او ادبي مقام په رابطه دغه رقم لیکلي: (( په شعر کې د ده شهرت له دې څخه څرگندیږي، چې د افغانستان ملک الشعراء قاريعبدالله او د ایران ملک الشعراء محمد تقی بهار د ده په مړینه ویرنې (مرثیې ) ویلې دي ( روهي ، ۱۳۸۴ل. ).

**وردګ د تاريخ په بهير کې سيمينار**

دغه دوه ورځنی علمي او تحقيقي سيمينار د(۱۳۹۵ل.) کال د مېزان مياشتې پر(۲۸) ورځ، د وردګ ولايت د کليو او قومي شورای له خوا، چې لومړۍ ورځ يې د کابل ښار په کانټيننټل هوټل او دوهمه ورځ يې د دې ولايت په مرکز کې د غازي محمدکريم‌خان په تالار کې وه، جوړ شو، د علومو اکاډمي قدرمنو غړيو، د کابل پوهنتون محترمو استادانو، تاريخ پوهانو، اديبانو، فرهنګيانو، د دې ولايت قومي مشرانو او علمي مخورو، د اطلاعاتو فرهنګ رياست ځينو کارمندانو او يو شمېر نورو د ادب مينه والو، چې د ټولو تعداد يې د(۲۰۰) تنو شاوخوا و، په دغه سيمينار او محفلونو کې ګډون درلود، د دغه سيمينار مقالې ټولې را يو ځای شوې دي، په را ټولولو کې ښې او پر ځای هڅې شوې دي، د مقالو ټولګې اهتمام يې احسان‌الله‌آرينزي کړی، ټولګه يې وردګ، وردک، ويهاردک، وياردک په نامه، سريزه اهتمام کوونکي پرې ليکلې ده، په( ۱۳۹۵ل. ) کال، په( ۶۰۳) کتابي مخونو کې چاپ او د همدغه سيمينار په وياړ پر ګډونوالو وېشل شوې او خپره شوې ده ( آرينزی، ۱۳۹۵ل.). د دې سيمينار په وياړ لاندې(۹) ټوکه بېل ــ بېل علمي او ادبي کتابونه چاپ او پر ګډونوالو، و وېشل شول:

۱ ــ د ګربت ( ګوربت ) لمن: د انجنير حبيب‌الرحمن‌رحيمي اثر دی، سريزه پرې محمد اورنګ مختار ليکلې ده، په (۸۲) کتابي مخونو کې چاپ شوی او په دغه کتاب کې وردګ ولايت ته لنډه کتنه شوې ده، د ګوربت د کلمې په جوړښت، د ګوربت د غره جغرافيايي جوړښت، په دې غره کې د شته ځارويو او نباتاتو په موجوديت يې په مفصل ډول خبرې کړې دي، ليکوال همدا راز د سيـــمي ښوونيز، کرنيز، اقتصادي، فرهـــنګي او روغتيايي حالت راســـپړلی دی او د ســيمي فـــولکلوري او کلتوري انګېرني يې په اصـــلي بڼه راوړې دي ( رحيمي ،۱۳۹۳ل).

۲ ــ ولسي لوبې: د محب الله شريف زوی اثر دی، په دې اثر کې د وردګ ولايت لرغوني او معاصرې ولسي لوبې، چې ډېری يې د هېواد په نورو سيمو کې دود او رواج وې يا اوس هم دود او رواج دي پېژندل شوې دي، په ښکلي کاغذ په(۱۶۱ ) کتابي مخونو کې چاپ شوی دی، سريزه پرې محمد اورنګ مختار ليکلې ده ( شريف زوی ،۱۳۹۵ل. ).

۳ ــ غازي محمد جان‌خان د وینو په لاره د شهادت تر دمه ځایه: دغه علمي او څېړنیز اثر د پرفیسور عبدالخالق رشید د( پي اچ ډي/ دوکتورا) له پاره لیکلی دی، استاد حبیب‌الله‌رفیع سریزه پرې لیکلې ده، په(۲۲٦) کتابي مخونو کې چاپ شوی دی، په دغه کتاب کې د غازي محمد- جانخان‌وردګ ژوند، کورنۍ او اړیکې، غازي محمدجانخان او عبدالرحمن خان، د غازي محمد جانخان د شهادت کال او نورو ( رشید، ۱۳۹۵ل.).

۴ ــ د وردګو د ښادۍ سندرې: د سارا سادات د ماسترۍ تحصیلي دورې اخیستلو سند یعنې تېزس دی، په(۱۹۳) کتابي مخونو کې چاپ شوی دی او موضوع یې د وردګ شفاهي ادبیاتو یوه برخه ده، په کتاب کې لکه له نامه څخه یې ښکاري د وردګ سیمې هغه کلیوالي او ولسي - منظومې برخې راټولې شوې، چې د عامه وګړیو په ځانګړې توګه د ښــځو له خوا د ښادۍ او واده په بېلابېلو مراسمو کې ویل کېږي ( سادات ، ۱۳۹۵ ل . ).

۵ ــ د وردګو کلتوري یون: د محمد اورنګ مختار د ماسترۍ تحصیلي سند په موخه لیکل شوی تېزس دی، په دغه کتاب کې د کلتوري ژوند توکي، کلتور او فرهنګ، د وردګ سیمه ییز خواړه، ولسي لوبې، جرګې او نرخونه، طب( کلیوالي درملنې) ، پوهنه او کادرونه، د وردګ ولسي ادبیات، ټولنې او رسنۍ، لرغونې سیمې او فرهنګي میراثونه، د وردګ ځلېدلې کلتوري او تاریخي څېرې او فرهنګیان په کې رواړل شوي دي، چې د کتاب حجم( ۴۲۴ )کتابي مخونو ته رسېدلی ( مختار، ۱۳۹۴ل.).

٦ ــ وردګ پېژندنه: د ګل‌آغا احمدي وردګ اثر دی، د الازهر خپرندویه ټولنې په(٦۴۲) کتابي مخونو کې د سیمنار په ویاړ چاپ کړی، په یاد کتاب کې د وردګ، اصل، معنا، لرغونتوب، سیمه او وګړي، اقلیم او جغرافیه، د وردګ ولایت او د وردګ ولایت سرچینې، د وردګ ولایت پوهنیز وضعت، لوړې زده کړې او استادان، وردګ او مرکزي حکومت، وردګ او مدني ټولنې، وردګ‌مؤسسې، امنیتي وضعیت، تلپاتې ویاړونه، علمي څېرې، د وردګ مشهور کسان، لیکوالان، وردګ مېرمنې، وردګ په ملي او ولایتي شوراګانو کې، وردګ د نوښتونو په ډکر کې

او په آخر کې هم د وردګ ښار او زموږ راتلونکي په اړه لنډ معلومات راټول شوي دي( احمدي، ۱۳۹۵ل).

۷ ــ وردګ، وردک، ویهارادک، ویاراک: د وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار د مقالو مجموعه ده، د احسان‌الله آرینزي په زیار په ( ٦٠٣) کتابي مخونو کې په پښتو او دري ژبه مقالې په کې چاپ شوې دي، هغه مهمې مقالې په کې راوړل شوې دي چې د وردګ پېژندنې د سیمینار په اړه د لیکوالانو له خوا ویل شوې دي، همدا راز په دې ټولګه کې د هغو لیکوالانو ژوند لیکونه هم د هغوی د مقالو ترڅنګ راوړل شوي چې د سیمینار په اړه یې مقالې لیکلې دي ( آرینزی، ۱۳۹۵ل. ).

۸ ــ Dear samsara: د احمد ضیاء وحدت ناول دی، په(۱۸۴ ) کتابي مخونو کې د سیمینار په پار په انګلیسي ژبه لیکل شوی او چاپ شوی او تر څنګ یې خپور شوی هم دی. ( وحدت، ۱۳۹۵ل. )

۹ ـــ د انجیو ګانو رول د وردګ ولایت په بیا رغاونه کې: د شرق د لوړو زده کړو مؤسسې په( ۱۳٦) کتابي مخونو کې په ښکلي کاغذ چاپ کړی، د کوار موسسې هغه خدمتونه په کې یاد شوي چې په تېرو(۱۵) کالونو کې یې په وردګ ولایت کې تر سره کړي دي. په دغه سیمینار کې د نهه بېلا بېلو کتابونه وېشلو، یوه ګټه دا ده، چې د سیمینار پر مقالو سربېره دغه کتابونه هم د یادې موضوع یا هم سیمې په اړه لیکل شوي دي، نه یوازې له سیمینار څخه یې ادبي او علمي ګټه اخستې ده، بلکې دغه نور کتابونه هم د وردګ ولایت او اشخاصو په اړه وو، ګډونوالو د دې مقالو سره ــ سره د سیمې، تاریخ، فرهنګ او نورو اړوندو برخو په اړه پراخه معلومات ترلاسه کړي، بله ګټه دغه ده، چې د سیمینار علمي، ادبي او پښتني دود وزن یې زیات کړی، تر ټول مهمه دا ده، که کتابونه د یوه سیمینار په موخه چاپ شي د سیمې د علمي بیدارۍ او فکري ودې یو ښکلی انځور وړاندې کوي، دا هم مهمه وي، چې د ګډونوالو سره علمي او دایمي یادګار پاتې شي او دغه یادګاري د سیمینار، سیمې او خلکو ارزښت څو برابره لوړوي. په دغه

سیمینار کې لاندې(۳۹) علمي او څېړنیزې مقالې څېړونکو او استادانو ولوستې او په ټولګه کې چاپ شوې وې. ( آرینزی، ۱۳۹۵ل.)

| | | |
|---|---|---|
| ۱ ـ | جغرافیه عمومي ولایت میدان وردک | پوهاند سلطان محمد - انصاری |
| ۲ ـ | میدان او وردګ ولایت د تاریخ په اوږدو کې | پوهاند لطف الله صافی |
| ۳ ـ | وردګ، وردک، ویهارادک، ویاردک، وردګ (بتکده/بودتون) | پوهاند مجاور احمدزیار |
| ۴ ـ | وردګ او وردګي ټبر | لیلا خرم |
| ۵ ـ | د وردګو په جغرافیا کې زیات شمېر نومونه په زړه پښتو او ... | پروفیسور عبدالخالق - رشید |
| ٦ ـ | د وردګو په خوات کې خروشتي ډبر لیکونه | څېړندوی حبیب الله - رفیع |
| ۷ ـ | لرغوني خروشتهي لیکدود او د هغه خواتي بېلګه | پوهنوال رسول باوري |
| ۸ ـ | وردک او وردګي ګړدود | عبدالودود بشریار |
| ۹ ـ | شنیځ د پښتو یو زوړ ویي دی | عبدالودود بشریار |
| ۱۰ ـ | د غزني د عارف ح.سنایي د استاد خواجه اسمعیل ژوند او مزار | احسان الله آرینزی |
| ۱۱ ـ | د وردګو پېژندګلوي | محمد ابرهیم ثابت |
| ۱۲ ـ | د مستوفي حبیب الله خان، تدبر او دیپلوماتیکي هڅې | محمد نبي ساحل |
| ۱۳ ـ | د مستوفي حبیب الله مایار یوه ملي او تاریخي‌مرکه | پروفیسور عبدالخالق رشید |
| ۱۴ ـ | نقش محمد جانخان در جنگ دوم افغان و انگلیس | پوهاند غلام جیلاني - عارض |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ ـ | غازي محمدجانخانوردگ او د هغه په نوم ياده شوې يوه سکه | پوهنوال رسول باوري |
| ۱٦ ـ | جنگ دوم افغان و انگليس ونقش غازی محمدجانخان . . . | عبدالحکيم صافی |
| ۱۷ ـ | غازي محمدجان او د هغه ولسي او پوځي نفوذ | سيد امين مجاهد |
| ۱۸ ـ | غازي مومن‌خان او د چک لرغوني شاهي کلا | محمد اورنگ مختار |
| ۱۹ ـ | غازي محمد جانخان با عزم و بی ادعا | محقق محمد فاضل - شريفي |
| ۲۰ ـ | غازي محمد جان د ولس په زړونو او د ولس په سندرو کې | څېړندوی حبيب الله رفيع |
| ۲۱ ـ | غازي محمدجان د انگريزي آرشيفي اسنادو د يوه ليک په چاڼ کې | پروفيسور عبدالخالق رشيد |
| ۲۲ ـ | نقش مردم وردگ . . .. در حمايت از آمان الله و مبارزات شان با . . . | کانديد ا. محمد اعظم - سيستاني |
| ۲۳ ـ | د افغانستان آساسي قانون او محلي اداره | څېړندوی بخت محمد - بختيار |
| ۲۴ ـ | اتلس (اطلس) قريه های ولايت ميدان‌وردگ | اداره مرکزی احصاييه |
| ۲۵ ـ | طرح پيشنهادی انکشاف ولايت ميدان‌وردک... | محمد عظيم عظيمي |
| ۲٦ ـ | د جهاد په لويه‌حماسه کې د وردگو ونډه او رول | محمد زبير شفيقي |
| ۲۷ ـ | د ميدان وردگو حالات، ستونزې او امکانات | عبدالحکيم رامیار |
| ۲۸ ـ | د غازي محمدجانخان وردگ ژوند او مبارزه | حيات الله حليم |
| ۲۹ ـ | په وردگو کې د ېبوزلي ورک کولو لارې چار | انجينير محمدعارف رسولي |

| | |
|---|---|
| ۳۰ـ د وردگ قوم کلتوري ځانګړتیاوو او نښو پېژندنه( ولسي ادب او لوبې) | محمد یاسین نوري |
| ۳۱ـ د وردگو د واده سیستم | سردار محمد روشن |
| ۳۲ـ روښندل روښن احمدشاه ژوند لیک | ګل آغا احمدي وردگ |
| ۳۳ـ د ارواښاد پوهاند عبدالقیوم وردگ ژوند | احسان‌الله آرینزی |
| ۳۴ـ د عبدالعلي مستغني ژوند لیک | محمد اورنګ مختار |
| ۳۵ـ د جغتو برله باد(یخ لګي بادونه) | حیات الله حلیم |
| ۳۶ـ د وردگو پوهنیز بهیر | ګل آغا احمدي وردگ |
| ۳۷ـ دوخترسنګ یا کره بي بي | حیات الله حلیم |
| ۳۸ـ د وردگ پوهنتون ارزښت | انجینیر محمد عارف - رسولي |
| ۳۹ـ په ګلدره کې د تقویم او وختونو پخواني توکي | حبیب الرحمن‌رحیمي |

**مناقشه**

د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندیږي چې په وردگ ولایت کې ادبي، فرهنګي او ټولنیز سیمینارونه د علمي بحث، فکري تبادلې او د سیمې د ادبي او فرهنګي ارزښتونو د معرفي کولو لپاره مهم رول لوبولی دی. خو د دغو سیمینارونو د مقالو د راټولولو، ثبت او خپرولو په برخه کې لا هم یو لړ نیمګړتیاوې لیدل کیږي. د همدې څېړنې پر بنسټ څرګنده شوه چې یوازې د ځینو سیمینارونو علمي مواد تر یوه حده خوندي او چاپ شوي دي، خو د ډېرو نورو سیمینارونو مقالې یا خو له منځه تللې او یا هم تر اوسه منظمې نه دي راټولې شوې. کله چې د دې څېړنې موندنې د ورته علمي اثارو او څېړنو سره پرتله کیږي، نو څرګندیږي چې په افغانستان کې د علمي سیمینارونو د اسنادو د ساتنې ستونزه یوازې د وردگ ولایت پورې محدوده نه ده، بلکې په نورو سیمو کې هم ورته حالت لیدل کیږي. په بیلابیلو فرهنګي او علمي

څېړنو کې یادونه شوې ده چې ډېری علمي غونډې او سیمینارونه ترسره کېږي، خو د هغو علمي مقالې او اسناد په منظم ډول نه راټولېږي او نه هم خپرېږي. دا موضوع د علمي میراث د ساتنې په برخه کې یوه مهمه تشه بلل کېږي. د دې څېړنې له مهمو موندنو څخه یوه دا ده چې د »وردګ د تاریخ په بهیر کې «سیمینار د نورو سیمینارونو په پرتله ښه مستند شوی دی. د دې سیمینار مقالې د »وردګ، وردک، ویهاردک، ویاردک «په نوم ټولګه کې چاپ شوې دي، چې دا د سیمینار د علمي ارزښت او د موضوع د اهمیت څرګندونه کوي. د دې ډول کارونو بېلګې په نورو علمي اثارو کې هم لیدل کېږي، چیرې چې د سیمینارونو مقالې وروسته په ځانګړو ټولګو کې خپرې شوې او د څېړونکو لپاره د باور وړ علمي سرچینې ګرځېدلې دي. برعکس، د عبدالعلي مستغني د اتیایم تلین سیمینار په اړه بشپړ معلومات او مقالې نه دي موندل شوې او یوازې د دوو مقالو نومونه تر لاسه شوي دي. دا موندنه د دې څرګندونه کوي چې د ځینو علمي او فرهنګي غونډو اسناد د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي او یا هم په منظم ډول نه ساتل کېږي. ورته حالت په ځینو نورو فرهنګي څېړنو کې هم یاد شوی دی چې د سیمینارونو علمي مواد د مناسب آرشیف او خپرونې د نشتوالي له امله د څېړونکو له لاسرسي څخه پاتې کېږي. په ټوله کې د دې څېړنې موندنې له پخوانیو اثارو سره تر ډېره بریده ورته والی لري، ځکه دواړه دا څرګندوي چې علمي سیمینارونه د علمي تولید او فکري پرمختګ لپاره مهم دي، خو د هغوی د علمي موادو د ساتنې او خپرولو په برخه کې لا هم بنسټیزو هڅو ته اړتیا ده. که په راتلونکې کې د دغو سیمینارونو مقالې په منظم ډول راټولې، چاپ او آرشیف شي، نو دا به نه یوازې د سیمې د ادبي او فرهنګي تاریخ د بډاینې لامل شي، بلکې راتلونکو څېړونکو ته به هم ارزښتناک علمي مواد برابر کړي.

**پایله**

علمي، ادبي او فرهنگي سیمینارونه د پښتو ژبې او ادب د ودې، پیاوړتیا او غني کولو په برخه کې یو اغېزناک او ارزښتمن رول لري، دغسې علمي غونډې نه یوازې د ژبې او ادب، بلکې د تاریخي، ټولنیزو او فرهنگي اړخونو د پېژندنې سبب گرځي او همدارنگه د لیکوالانو، څېړونکو او فرهنگي شخصیتونو تر منځ د فکري تبادلې او علمي همکارۍ له پاره هم مناسب چاپېریال برابروي. د همدې ارزښت له مخې، په وردگ ولایت کې د څوارلسمې لمریزې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې د پښتو او دري ژبو د معاصر شاعر او لیکوال عبدالعلي‌مستغني د اتیایم تلین په ویاړ یو ورځنی څېړنیز او ادبي سیمینار د(۱۳۹۲ل.)کال د مرغومې( جدي) میاشتې پر( ۷) ورځ، د وردگ ولایت اطلاعاتو کلتور ریاست، د غازي عبدالکبیر خان د غونډو په تالار کې جوړ کړی او بل وردگ د تاریخ په بهیر کې تر سرلیک لاندې دوه ورځنی علمي او تحقیقي سیمینار د(۱۳۹۵ل.) کال د مېزان میاشتې پر( ۲۸) ورځ، د وردگ ولایت د کلیو او قومي شورای له خوا، چې لومړۍ ورځ یې د کابل ښار په کانتینتل هوټل او دوهمه ورځ یې د دې ولایت په مرکز کې د غازي محمدکریم‌خان په تالار کې وه، جوړ شوی او دغه ادبي او تاریخي سیمینارونه د پښتو ژبې او ادب د پرمختگ په بهیر کې د یادونې وړ گڼل کېږي. بله مهمه خبره د سیمینار، سمپوزیوم او کنفرانس ده، دغه ټولې هغه علمي غونډې دي، چې د یوې ځانگړې موضوع په اړه رسمي علمي ویناوې، بحثونه، څېړنې او ځینې وخت عملي فعالیتونه په کې ترسره کېږي، خو ورکشاپ کېدلی شي، رسمي او غیر رسمي دواړې بڼې ولري.

**اخځلیکونه**

آرینزي ، احسان الله . (۱۳۹۵ل.). وردگ، وردک، ویهاردک، ویاردک . کابل ، افغانستان.

احمدي،گل‌آغا.(۱۳۹۵ل.). وردگ‌پېژندنه، لومړی چاپ. کابل: الازهر خپرندویه ټولنه ـ دهمزنگ.

اطلاعاتو او کلتور وزارت . (۱۳۵۵ ل.) . پښتو آریانا دایرة المعارف اووم ټوک . لومړی چاپ . کابل : د ایرة المعارف ټولنه .

اکاډمي، علوم. (۱۳۹۰ل. ) .آريانا دايرة المعارف، څلورم ټوک. کابل: د علومو اکاډمي د دايرة المعارف د مرکز رياست، نبراسکامطبعه.

باجوړی، بريالی . ( ۱۴۰۰ ل. ) . د پښتوادبياتو معاصر تاريخ(روښانتيا پړاو) . لومړی چاپ . کابل : جهان دانش خپرندويه ټولنه .

بېلابېل. (۲۰۱۲م. ) . پښتو ــ پښتو تشريحي قاموس دوهم ټوک. کابل: ميهن خپرندويه ټولنه.

بېنوا، عبدالرؤف. (۱۳۴٦ ل. ) . اوسني ليکوال دريېم ټوک . کابل: د مطبوعاتو مستقل رياست، د پښتو د تميم او انکشاف لوی مديريت، دولتي مطبعه.

رحيمي، حبيب الرحمن. (۱۳۹۳ل. ) . د ګربت ( ګوربت ) لمن. کابل: معلومات نشته.

رشيد ، عبدالخالق. (۱۳۹۵ل. ) . غازي محمدجانخان د وينو پر لاره د شهادت تر دمه ځايه. دوهم چاپ. کابل: اکسوس کتابپلورنځی، وايګل مطبعه.

روهي، محمد صديق. ( ۱۳۷۸ل. ) . د پښتو ادبياتو تاريخ . دوهم چاپ. پېښور: د محمدصديق روهي فرهنګي ټولنه، دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه.

زېور، زېورالدين . ( ۱۳۹۴ ل. ) . د پښتوادبياتو تاريخ(اوسنی دوره). جلال آباد: مومندخپرندويه ټولنه ــ تخنيکي څانګه.

سادات، سارا. (۱۳۹۵ل.). د وردګو د ښادۍ سندرې. لومړی چاپ. کابل: مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه.

شريف زوی، محب الله.( ۱۳۹۵ل.). ولسي لوبې، لومړی چاپ. کابل: الازهر خپرندويه ټولنه ــ دهمزنګ.

شهيد زوی، محمد اسحق. ( ۱۳۹۸ل. ) . ښوونيزمديريت. دريېم چاپ. جلال آباد : مومند خپرندويه ټولنه .

عميد، حسن. ( ۱۳۸۱ل. ) . فرهنګ عميد. جلد سوم. تهران: مؤسسه انتشارات امير کبير.

عميد، حسن.(۱۳۸۱ل.). فرهنګ عميد جلد دوم. تهران: مؤسسه انتشارات امير کبير.

مختار، محمد اورنگ.(۱۳۹۴ل.). د وردگو کلتوري يون. کابل: د افغانستان ملي تحريک، فرهنگي څانگه.

وحدت، احمد ضياء . (۱۳۹۵ل.) . Dear samsara. لومړی چاپ، کابل : معلوم نه دي.

يوسفزی، تيمور شاه . ( ۲۰۱۲م.) . دانش فارسي ــ پښتو قاموس. لومړی چاپ. کابل: دانش- خپرندويه ټولنه .